دستگیر روشنیالی

۲۰۱۴/۰۴/۲۹

# د انتخاباتو څو پايلي او څو درسونه

## نورخلک په هغه کيميا پسي نه گرزي چي مس په طلا بدلوي

دلته زاړه، ځوانان، ښځي او سړي دي نتيجي ته رسيدلی دي چي يو بل پيدا کړي، په يو بل پوه شي، يو د بل د تفکر او انتخاب درناوی وکړی او يوله بل سره په همکاري او برابري کي په سم لوری د هيواد د لاربښووني لاره پيدا کړي. د خلکو د سياسي شعور دی ځای ته رارسيدلی چي له يوي خوا د بل ډول نظرياتو خاوندان ومني او له بلي خوا د اختلافونو د حل له پاره د رايو د صندقونو په لور ولاړ شي. ربښتيا هم هغه وخت را رسيدلی چي خلک ځان پيدا کوي، فکر کوي او پوښتني کوي:

- ـــ موږ څوک يو؟
- ـــ موږ د تاريخ په کوم پړاو کي يو؟
- ـــ د ژغورلولاره کومه ده؟
- ـــ ايا يوله بل سره لاس په لاس د لويو تصميمو نو د نيولو وخت نه دی؟
- ـــ ايا په خپل لاس کي د خپل برخليک د اخستلو وخت نه دی؟

دافغانستان خلک د راتلونکي په لور د زړورو گامونو د اخستلو اراده لري او نه غواړي د راتلونکو نسلونو په وړاندي ځان ملامت کړي. نه غواړي افغانستان په همدي حال پريږدي او خپلو مسؤليتونو ته شا ور وگرزوي. دوی هغه څه کوي چي ددي هيواد موجوديت پوري تړلی دی او په دي هم پوهيږي چي د افغانستان د موجوديت او نه موجوديت مسله د دوي په تصميم پوري تړلې ده.

په ځانگړي توگه ځوان نسل نه غواړي د سبا په ځای په پرون کي ځان پيدا کړي. په دوي کي **" د ما يي څه" " همدا به دي قسمت وي"** ... احساس او تفکر په ماتيدو دی.

دوي هر يو فکر کوي: زه را پورته شوی يم، تر څو نور را پورته کړم. زه بيدار يم ترڅو نور بيدارکړم. زه په ځان باورلرم تر څو نور په ځان باوري کړم او دا دما کار دی او د يوه فرد په توگه به دا هميشه د ما کار وي. بی له شکه موجود ځوان نسل يو تاريخ جوړونکی نسل دی او دوي دا درک او پوهای هم لري چي يوه پرانيستي او يوه عادلانه ټولنه د دموکراسي او بشري حقونو په يووالی او پلي کولو کي را منځ ته کيږي

**طالبانو ته پيام:**

انتخاباتو و ښودله، کله چي بدلون د هر چا په شعار بدليږي معني يي دا دی چي ټولنه يوه نوی حالت ته ننوزي او يو پراخ ټولنيز جنبش په حرکت کي دی چي د هر وگړی د گډون غوښتنه کوي تر څو خپلي غوښتني او خپل پيامونه په روښانه توگه بيان کړي:

- ـــ د موږ هستي د افغانستان په هستي کي دی.
- ـــ افغانستان د جهان د يوي برخي په ځای په خپله جهان دی او هغو چي افغانستان له جهانه جلا کول غواړي د موږ نه دي.
- ـــ موږ جگړه نه غواړو.
- ـــ افغانستان يوه پلورالستيک ټولنه ده او موږ په سياسي، په نظرياتي، په قومي، په مذهبي ....برخو کي يو شان کول نه غواړو. افغانستان تباه کيداي شي. افغانستان ټوټي کيداي شي، خو



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

افغانستان هیڅکله یو شان کیداي نشي. افغانستان پلورالستیک ټولنه ده او پلورالستیک به پاتي کیږي

- — موږ په رڼا ورځ سیاسي او نظریاتي پلورالیزم ته رایه ورکړه او هغوي چي په دي ټولنه کي د خپلو نظریو د بشپړي واکمني تحمیل کول غواړي د همیشه له پاره مات شوي دي. په حقیقت کي انتخابات په ډیره لویه او ټاکونکي پیمانه د طالبانو سیاسي او ایدیولوژیک ماتي ده اوله وخته مخکي به نه وي چي انتخاباتو ته د طالبانو د تاریخي ماتي تعریف ورکړل شي. طالبانو ته نور د یوه سیاسي الترناتیف په سترګه نه کتل کیږي.

**دا یوه حادثه نه، دا یو تاریخ دی:**

**د خلکو د ارادی او د خلکو د پریکړي تاریخ:**

هغه ورځ را ورسیده چی خلک میدان ته راووزي او خلک میدان ته راوتلی دي. دلته په واقعیت کي د ارادو او تصمیمونو پاڅون تر سره شوی دی او دلته د اول ځل له پاره جمعی عقل خپل بری نمانځی او دا بي ساري تاریخي لاس ته راوړنه ده.

دا یوه حادثه نه دی دا یو تاریخ دی، کوم چي له پلچرخي د ټانکونو او قوماندانانو په راوتلو، له تاشکند د روسي لښکرو په یرغل کولو، له جلال اباد د کابل په لور د طالبانو په مارش کولو، له اسمانه د بی ۵۲ طیارو د بمونو په اچولو او ارګ ته د کرزی په ننیستلو نه پیل کیږي. دا تاریخ له هر کوره، له هره کلی او له هره ښاره د خلکو په راتلو پیل کیږي. بیا او په تکرار وایم دا نوی تاریخ دی. د خلکو د ارادو او د خلکو د تصمیم تاریخ. د خلکو د قدرت او حاکمیت تاریخ.

**د دموکراسي بری:**

په افغانستان کي دموکراسي د بل هر سیاسی نظام په پرتله په عمل کي خپله برتري او خپل ځواک ثابت کړل او دا دموکراسي ده چي د افغانستان په تاریخ کي یي د اول ځل له پاره یوه میلیوني ټولنه په حرکت راوستله او دواړه ښځه او نر د برابرو سیاسي حقونو په درلودلو سره د رایي د مرکزونو په لور ولاړل. دا هم دموکراسي دی چي د اول ځل له پاره په سیاست کي له اختلافونو سره سره د ټولو د ګډون امکانات را منځ ته کړل. دافغانستان خلک نور هغه سیستمونه، واکمني او نظامونه چي له انتقاد او بدلون نه خوندي وي نه غواړي. په دموکراسی کي د ټولو له پاره ځای شته دی او حتی د دموکراسي د دوښمنانو له پاره. ټولنه سیاسي شوي او په چټکه توګه په ځان باوري کیږي او نور په هغه کیمیا پسي نه ګرزي چي مس په طلا بدل کړي.

**موږ پسونه نه یو:**

دلته نور د هغه چا له پاره چي ټول حقونه او هر ډول ازادي ولري او نورو ته یوازي مکلفیتونه وټاکي او میلیونونو انسانانو ته د خپلو بندګانو په سترګه وګوري او د پسونو په څیر ورسره چلند وکړي ځای نشته دي. په افغانستان کي د خامنه ای په شان د دیکتاتور چي هم د انسان او هم د زمان دوښمن دی د راتګ لاره په کلکه تړل شوي ده، کوم چي میلیونونو ایرانیانو ته د زندانیانو په څیر فرمان ورکوي، دا واغونده، دا مه اوغنده. دا وخوره او هغه مه خوره ، دا ولیکه او هغه مه لیکه ... او هرفرمان یي هم حق او هم حقیقت بلل کیږي. دا د یوویشتمي پیړي جهالت سالار وایي:

**" برابری جنسی زن و مرد حرف غلط غربی‌هاست...باید از افکار غربی در مسائلی نظیر اشتغال و برابری جنسی کاملاً فاصله بگیریم."** بي. بي. سي

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ

د افغانستان نور د يوه وګړی د ازادی وطن نه دی. دلته بايد ټول ازاد وي او هر ځانګړی وګړی د ازادی حق لري. په افغانستان کي نور هغه وخت تير شو او تير شوي چي د ژوند پاتي کيدلو راز په چوپتيا کي وي او د نابرابری او بي عدالتي په ضد اعتراض ته جرم وويل شي. د افغانستان خلک د يوې ټولني ايجاد کول غواړي چي په هغه بي له دي چي دا او هغه وګړی د کوم دين پيرو دی، په کوم قوم پوری تړلی دی، په کومه ژبه خبرې کوي ... يو شان حقونه ولري او د انساني کرامت درناوی يي وشي.

**نوی سياسي فرهنګ:**

په افغانستان کي يو نوی فرهنګ او په ځانګړي توګه يو نوی سياسی فرهنګ پيل شوی دی. يو سياسي فرهنګ چي د نظريو او سياسي فکرونو په پلوراليزم او اختلافونو ولاړ دی. دا فرهنګ د يو شان کولو، د مخالفينو د نفي کولو فرهنګ نه دی. دا سياسي فرهنګ د يوې نظريې، يوه ګوند، يوه تنظيم فرهنګ هم نه دی او په دي فرهنګ کي نور يو ګوند، يوه ډله او يو وګړی د سياسي سيستم په محور نه بدليږي.

په نوي سياسی فرهنګ وګړي هغه ډول چي دی منل کيږي او هيڅوک دي ته نه مجبور کيږي چي خپل ځان او خپل فکر عوض کړي. يو کال پخوا موږ دا ډول کړلو فکر نشواي کولای. په نوی سياسي فرهنګ کي نور سياست کول جرم نه دی او سياست د جرم په ځای حق دی او راتلونکي ګام اخستل فرد د سياست په مرکز بدلول دی. فرد نه د کولکتيف د يوه غړي په توګه، فرد د يوه ځانګړی او خپلواک انسان په توګه.

په نوی سياسي فرهنګ د ايديولوژي او سياسي وفاداريو ځای تخصص، مسلک، وړتيا او کفايت ته ورکول کيږي. په نوی سياسي فرهنګ کي دواړه قدرت او حاکميت د ټولني پوسيله تمثيل کيږي. په دي فرهنګ کي دواړه حاکميت او رهبري د ټولني حق دی.

په نوی سياسي فرهنګ کي د مصنوعي، غولونکو او دروغجنو اتوريتو له پاره ځای په تنګيدو دی او نور دا خلک نه دی چي ځانونه له دي رهبر! او هغه پيشوا!، له دي تنظيم او هغه ګوند سره عيار کړي، بلکي دا بايد رهبران تنظيمونه او ګوندونه وي چي ځانونه له خلکو سره عيار کړي. خلک په عمل کي د بدلونونو مسؤليت په خپله غاړي اخلي او د قدرت په ټاکلو کي د وروستي خبر حق ترلاسه کړی دی.

په نوی سياسي فرهنګ کي اختلاف حتمي او توافق نسبي دی او دواړه دوستي او دوښمني آبدي او نه بدليدونکي مفهمونه نه دي. په تيره بيا سياسي اختلافونه ضروري او پرانيستی او ازاد سياسي بحث د ټولني له سياسي کولو سره مرسته کوي او د سياست هنر د همدي هميشنيواختلافونو تر منځ د ګډو ارزښتونو پيدا کول او د خواو تر منځ د تفاهم او پوهاوي زميني برابرول دي تر څو خواوی د ګډو هدفونو په شاوخوا را ټولي او د عمل يووالی را منځ ته شي.

هميشه واکمن او هميشه رهبري چي د پرونی سياسي فرهنګ مهمه برخه يي جوړوله هم د پرون برخه شوه. پرون دلته هر څوک په هره وسيله به چي واکمن شو رهبري ورته خپل هميشنی حق ښکاريدو او هڅه يي داوه چي تر څو ژوند وي واکمن پاتي شي. په نوي سياسي فرهنګ کي لکه چي وويل شول رهبري د ټولني حق دي او ټولنه پريکړه کوي چي چا ته د يوې ټاکلی مودي له پاره د رهبری مسؤليت وروسپاري او همدارنګه افغانستان نور له بهره د رهبر د را صادرولو ماركيت او د رهبر د ديسانت کول ميدان نه دی.

**د موږ زمانه، د تصميم نيولو زمانه.**

**د موږ دنيا، د نويو انديښنو دنيا.**

**" تاسي نشي کولاي نوی ژوند پيل کړي، خو هره ورځ يوه نوې ورځ دی" هنری.** د. تورو امريکايی فيلسوف

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولـئ

نوي دنيا د نوښو اندیښنښو پایله ده. زه هم د پرونیو په شان نه یم هغوي خپل وخت او زه خپل وخت لرم او زه په خپل وخت کي د خپل تاریخ او خپل شخصیت جوړونکی یم. بې پرونه نن نشته دی، خو نن پرون نه دی. زمانه نه دریږي او د هغې د حرکت لوری هم نه بدلیږي. دا د موږ زمانه ده. دا یو په بل پسی د سیاسي استبداد د کړیو د ماتولو زمانه ده. په افغانستان کي د یوې کورنۍ، د یوې قبیلي، د یوه ګوند، د یوه وګړی د واکمني د اوږدی مودی طلسم او جادو مات شو او اوس دنده د ذهني استبداد د ماتول دی تر څو فکرونو خپلواک او اندیښني ازادي شي.

په وروستیو کلنو کي ډیرو هڅه وکړه د افغانستان او پیښو ته سناریو جوړه کړي او په ټولنه له پاسه د خپلي خوښي حل تحمیل کاندي. په لسګونی طرحی " دافغانستان د نجات طرحي..." په لسګونو جرګي او جلسي جوړوي شوي او دي ښاغل غوښتل د فلم په شان د ټولني د پیښولار ښوونه وکړي. دوي ته ځانونه د افغانستان ناجیان ښکاریدل. خو په عمل کي یوې طرحی هم د واقعي دنیا په لور د خیال او اوتوپیا له پولو د را وښتلو وس نه درلود. هیڅوک نشي کولاي د ټولني او تاریخ له پاره سناریو ولیکي. په افغانستان کي را منځ ته حالت د ډیرو لاملونو، فرصتونواو تلاشونو پایله ده او.کله کله د ټولني د حرکت لوکوموتیف د ننی په ځای د باندي وي.

**د سړی ټولنه په ګونډو شوه :**

انتخاباتو د سړی ټولنه او د سړی واکمنی هم په ګونډو کړه. دافغانستان په تاریخ کي ښځو د اول ځله له پاره او په ډیره لویه پیمانه له سړیو سره په برابري کي له خپل سیاسي حق ګټه پورته کړه او دا بې له شکه په دي هیواد کي د پیړیو او پیړیو دسړي واکمني ته یو بالفعل او ځواکمن ګواښ دی او دسړی ټولنه په عمل کي په ړنګیدو دی. په دي هیواد کي د نر او ښځي تر منځ طبعي اختلافونه د یوې خوا د برتري په منظور مذهبي او سیاسي شوي دي او په ټولنه کي یي جنسي اپارتاید واکمن کړی دی. انسانان نه ویشل کیږي. دواړه ښځه او سړی انسانان او بشري موجودات دي او دواړه برابر انساني ارزښتونه او حقونه لري.

**د نویو تعریفونو اړتیا:**

انتخابات موږ دی ته رابولي چي د انسان او ټولني په هکله په خپلو نظریاتو بیا او بیا کتنه وکړو. دواړه ټولنه او وګړي یي په نوی هویت پسي را وتلي دي او غواړي نوی هویت یو مدرن هویت ولري. دواړه ټولنه او وګړي یي نور په پرونیو او سنتي تعریفونو کي نه ځایږي. دوي هغه څه وکړل چي پرون دلته نه دي شوي، کوم چي هم په خپله بدلون دی او هم پیاوړي او څوګوني بدلیدونکي ځانګړتیاوي لري چي ډیر څه یي بدل کړل او ډیر څه به بدل کړي.

ټولنه د ژور فکري او ذهني بدلون په در شل کي دی. ټولنه د خپلو بی شمارو خطاګانو او تیروتنو په نتیجه کي دي نتیجي ته رسیدلي چي نور نه باید په پرون کي غرق شي او نه باید نن او سبا د پرون په قرباني بدل شي. همدارنګه ټولني په خپلو تجربو موندلي چي اید یولوژیک فکرونه او د هغوي واکمني راتلونکي نه لري. دوي پریکړه کړي خپل برخلیک په خپل لاس کي واخلي او غواړي نوی ژوند پیل کړي او نوی ژوند نوي اندیښني او نوي وسیلي غواړي. په افغانستان کي د دواړو ټولني او وګړو نوی را منځ ته شوی حالت نوي تعریفونه غواړي

همدارنګه انتخاباتو موږ دي اړ کړي یو چي د تاریخ په هکله نوی فهم او نوی پوهای ولرو او تاریخ ته نوي تعریف ورکړو. دا تاریخ د افسانو، نقلونو، روایتونو په ځای د موږ تر سترګو لاندي په یوه روښانه واقعیت پیل کیږي او د همدي تاریخ لیکل له زورور او له دیکتاتور د ډار او تاثیر په ځای د بیان د ازادي او دتفکر په خپلواکي کي لیکل کیږي او هیڅوک یي د تحریف کولو وس او امکانات نه لري. انتخابات د یوه نوی تاریخ د پیل په توګه د پرون په ځای راتلونکي ته ګوري.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

**دا وروستی بری نه دی:**

دا د ازادي او عدلانه ټولني په لور وروستی حرکت نه دی او هغه څه چي همدا نن په ټولنه کي تیریږی د استبداد، ظلم، نابرابري، بي عدالتی، فساد... په مورچلو ورستي ګذارونه نه دي. جنګ سالاران، قوماندانان، قاچاق وړونکي او قدرت پالونکي او ثروت ټولونکي تر اوسه په صحنه کي دي او د نویو امتیاذونو د تر لاسه کولو له پاره یي د لیوانو په شان کمین نیولی او تر اوسه د خلکو له ارادی او تصمیم نه د خپلو ګټو د تر لاسه کولو له پاره پوره او پیاوړي امکانات لري او کولاي شي د خلکو ارادي او تصمیمونه غلا کاندي.

انتخابات یوازي یو سیاسي بری دی چي تر اوسه بنستیزي او نه په شا کیدونکي ځانګړتیاوي نه لري. تر اوسه د سیاسي خطونو په پرتله قومي خطونه پیاوړي دي. ګواښونه او خطرونه خورا زیاد او جنګ د خطر په ځای د واقعیت په توګه عمل کوي. وګړي په ټولنیزو او حقوقي برخو کي له پیاوړي مقاومت سره مخامخ دی او د فرد حقونه او ازادي د سیاست په مرکز نه دي بدل شوي او د ټولنیزو ژوند په ځینو برخو کي له فرد او په تیره بیا له ښځي سره د سمبول په توګه چلند کیږي او په اساني او بشپړه بي پروایی سره د ډیرو زړو دودونو او حتي د نوم، لتي او شملي په قرباني بدلیږي.

دا مهمه نه دی چي څوک ریس جمهور کیږي، مهمه داده چي خلکو ته غوږ ونیول شي، د هغوي غوښتني او پوښتني واوریدل شي د دولت او ټولني تر منځ باور پیاوړي شي او د پرمختګ په لور د ټولني لاربښوونه وشي اوپرینښودل شي چي خلک په خپل عمل پشیمانه شي او ووایي، هغه قولونه اوهغه وعدي څه شوي؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ